# ماسټر عبدالکریم، لال په ایرو کښې

همېش خلیل

**یادګېرنه: ۱۹ جنوري د ماسټر کریم د وفات ورځ ده، مونږ د همېش خلیل دغه مضمون د ماسټر صېب د وفات د ورځې په حواله په خصوصي توګه چاپوو.**

د اتمانزو مردم خېزه زمکې د هېواد په ورشو ماسټر عبدالکریم په ۱۹۰۸ میلادي کال کښې وزېږېدو، هغهٔ د فخر افاغنه د لاس او شفقت د سېوري لاندې لوئے شو، د ازادۍ د ژوند په هره معرکه کښې هغهٔ د باچا خان سره لکه د یو تنګیالي پښتون ملا وتړله، رښتیا خبره خو دا ده چې ماسټر صاحب له باچا خان او وطن سره کوم پت او پښتو وپالله د هشت نګر خاوره به تل ورباندې ویاړېږي.

ماسټر صاحب لا په اووم جماعت کښې تعلیم کولو چې په اتمانزو کښې ازاد سکول جوړ شو، چرته به چې د باچا خان په سرپرستۍ کښې پښتنو ته د پېرنګولي نه د ازادۍ درسونه ورکولے شو، ماسټر صاحب هم په دغه سکول کښې داخل کړے شو. دا د جون ۱۹۲۱ء شپې ورځې وې، ولې چاته معلومه وه چې د دغه ازاد سکول تقاضو پوره کولو دپاره به یوائې هم دغه ماسټر صاحب بس وي او د هغه ټولو محبانو او د وطن دوسته زلمو نه پرته کۀ یوائې ماسټر صاحب د ازاد سکول د ارزوګانو او ارمانونو انجام وګڼو کوم چې دغه سکول پېدا کړي دي نو پوه شئ چې ازاد سکول په خپلو ارادو کښې کامیاب دے.

ماسټر صاحب په ۱۹۳۰ء کښې د دهلي په جامعه ملیه اسلامیه کښې بي اې وکړه او په جون ۱۹۳۰ء کښې چې د دهلي په چاندني چوک کښې ګولۍ وچلولې شوې نو ماسټر صاحب د یو قامي رضاکار په ډول کېمپ کښې د زخمیانو په خدمت مقرر شو، د بي اې پاس کولو نه پس ماسټر صاحب اتمانزو ته راغے په دې موده کښې قیصه خوانۍ هم د زرګونو پښتنو په وینو رنګ وه او په زرګونو پښتنې مېندې بُورې شوې وې، په زرګونو پښتانۀ په بندي خانو کښې اچول شوي وو، په دې موده کښې د ازاد سکول حال ډېر خراب ؤ، دا اول ځل ؤ چې ماسټر صاحب د یو استاذ په حېث په ازاد سکول کښې زلمو ته د ازادۍ درس شروع کړو، هم د دې ورځې نه د دۀ په نوم کښې د "ماسټر" اضافه وشوه.

یو کال پس ماسټر صاحب هم د نورو وطنوالو غوندې اول ځل بندي خانې ته ولېږلے شو او درېو کلونو سخت قېد نه پسته چې په ۱۹۳۳ کښې کوم وخت له بندي خانې نه راووت نو ازاد سکول ئې د غلیمانو له لاسه وران او لتاړ ولیدو، ماسټر صاحب یو ځل بیا د خپلو ملګو او همت نه کار واخستو او د اووۀ کاله پرله پسې زیار ایستلو نه پس ئې سکول بیا په ډېره کامیابۍ روان کړو، د سکول په تاخچه کښې ئې د ازادۍ د درسونو شمع بله کړه چې بېشماره پتنګان ورته راغونډ شول.

عالمګیر جنګ نښتے ؤ. زیاتره وطنوال له بندي خانو نه راوتي وو. د جرمني الوتکو په لندن بمباري شروع کړې وه. د پښتنو ترجمان "پښتون" د "نننۍ دنیا" د سرخط لاندې ماسټر صاحب په یو مضمون کښې ولیکل:

"د وزیرو مسعودو د زړونو پاک خدائے واوریدل هن په لندن ګوله باري شروع شوه. نن دې د لندن مېندې په خپلو زړونو ګوتې کېږدي چې د بل کورونه ورانول ښۀ کار دے کۀ بد".

دا یو اوږد مضمون ؤ چې ماسټر صاحب ورباندې د ډیفنس آف انډیا رولز له مخه یو نیم کال بندي شو، په دې ورځو کښې د بي بي سي د پښتو څانګې د پاره د ښۀ پښتو لیکوال ضرورت شو د حکومت سترګې په ماسټر صاحب پرېوتې، د صوبې چیف سکتر مهتر ډنډاس د اتمانزو شاهنواز خان د ماسټر صاحب د رضا کولو د پاره بندي خانې ته ولېږلو، هغه ماسټر صاحب ته د پنځوسو روپو د میاشتنۍ تنخواه نه پرته په لندن کښې د نورو مراعاتو په حقله ووې، ولې ماسټر صاحب خوښه نۀ کړه او ورته ئې ووې: "زۀ د لندن خدمت ته نۀ یم پیدا زۀ به د پښتون او پښتونخوا خدمت کوم."

په دغه موده کښې ماسټر صاحب له بندي خانې نه دوباره د بي اې امتحان پاس کړو، د قېد نه چې خلاص شو نو د بي ټي کولو د پاره په اسلامیه کالج کښې داخل شو، قریباً درې میاشتې پس ماسټر صاحب ته د کالج پرنسپل ووئیل چې هغه دې له ډپټي کمشنر نه سفارشي خط راوړي ځکه چې ډپټي کمشنر صاحب دې د باچا خان سرے بولي نو موړې د سفارشي خط راوړلو په ځائے سبق پرېښود.

ماسټر صاحب بیا لکه مات لاس غاړې ته پرېوتو، ازاد سکول ته واپس راغلو او په لندن کښې د بي بي سي د ملازمت د انکار په صله کښې انجمن اصلاح الافاغنه د ماسټر صاحب تنخوا د ۳۲ په ځائے ۴۰ روپۍ مقرر کړه، څۀ وخت چې په ۱۹۴۲ء کښې "تخت لا تخته" تحریک شروع شو نو ټولو پښتنو په پېرنګي پسې چغه وکړه چې:

پښتون دے منګرے پېرنګه ځان ترې نه ساته
وطن ورته خالي کړه انګرېزان ترې نه ساته

څۀ موده پس ماسټر صاحب بیا سره د ګڼو پښتنو دوه کاله قېد شو او د قېد ختمولو نه پس د باچا خان په و ینا قبائلو ته تلونکي وفد سره شو او د ارنګ برنګ په لاره باجوړ ته لاړو، له هغه ځایه چینګۍ ته لاړو چرته چې د انجمن اصلاح الافاغنه سکول ؤ، د سکول د کتو نه پس چارمنګ ته لاړو، حکومت چې د ماسټر صاحب د دورې نه خبرېدو هغوي دوره مکمله کړې وه.

په جون ۱۹۴۵ء کښې ماسټر صاحب د ډاکټر صاحب په وزارت کښې د فیلډ پبلسټي ارګنائزر په حېثیت واخستلے شو.

اخر په جون ۱۹۴۸ء کښې ماسټر صاحب بیا بندیوان شو او د پنځو کلونو اوږد قېد نه پس چې راخلاص شو نو د پښتون پرېس او "پښتون" مجلې د ډیکلرېشن د پاره ئې درخواست ورکړو چې حکومت منظور نۀ کړو په جولائي ۱۹۵۴ء کښې تر دفعه ۲۴ الف او دفعه ۱۵۳ الف تعزیرات پاکستان لاندې بیا ونیولے شو چې دوه نیم سوه روپۍ جرمانه او تر برخاست عدالت پورې په ۲۳ فرورۍ ۱۹۵۷ء کښې په سزا ورسېد.